## د ښځو لپاره د ولسي جرګې دڅوکیودتخصیص کړنلار

دغه کړنلارد۳۲ مادې د حکم په پام کې نیولوسره او د ا فغانستان  دټاکنو دقانون په ۶۶ مادې کې دورکړل شویو واکونواود ټاکنو د خپلواک کمېسیون له خوا د اړوندو چارو د تنظیم په موخه په ولسی جرګه کې د ښځو لپاره دڅوکیو د تخصیص په اړه تصویب شوی ده.

**عملی ساحه**

لمړۍ ماده :

دغه کړنلار د ۱۳۸۹ کال د ولسی جرګې د ټاکنو لپاره د ښځو د څوکیو د تخصیص اړوندې چارې تنظیموی.

**د څوکیو تخصیص**

**دویمه ماده :**

(۱)د ولسی جرګې له ټولو څوکیو څخه اته شپیته څوکۍ د ښځو لپاره ځانګړې شوی دی .

(۲)د اته شپیته ځانګړیو شویو څوکیو له جملې څخه دری څوکې د کوچیانو ښځو لپاره اختصاص ورکړل شوی دی.

(۳)  د هر ولایت لپاره لږتر لږه یوه څوکۍ اختصاص مومی.

(۴)  له اته شپیتو څوکیو څخه ۶۵ څوکې په وروستي ډول ولایتونو ته اختصاص ورکول کیږی .

A د هرې څوکۍ د وندې د ټاکلو په موخه د هیواد د نفوسو مجموعه پر ۶۵ څوکیو ویشل کیږی.

B د هر ولایت نفوس د هرې څوکې پر سهمیې ویشل کیږۍ .

C په پیل کې ولایتونو ته د څوکیو شمیر مساوی د ویشل شوی تام عدد حاصل سره د b په برخه کې اختصاصیږی.

D هغه څوکۍ چې د C برخه کې نه اختصاصیږی ، د B په برخه کې د ویشل شوی باقی مانده اعشاری عدد نزولی ترتیب پر بنسټ تر سره کیږی .

E که د محاسبې په پایله کې یوه یا څو ولایتونو ته له یوې څوکۍ څخه لږ ورسیږی ، نو هغه ولایت ته یوه څوکۍ اختصاص ورکول کیږې .

F د څوکیو مجموعه او د ولایتي نفوسو شمیر چې د E د برخې پر اساس اضافي څوکۍ هغوی ته اختصاص شوی ، له ۶۵ څوکیو له مجموعې او د ولایتونو د نفوسو له مجموعې څخه کمیږې . د پاتې شویو څوکیو لپاره یوه نوې سهمیه د محاسبه شوی څوکۍ اختصاص او د دغو ولایتونو لپاره د څوکیو تخصیص به هغه بڼه چې د B تر F برخو پورې راغلی دی تکراریږی .

**انفاذ**

**دریمه ماده**

دغه کړنلار د تصویب له نیټې څخه نافذه او خپریږې .